# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## له خلافت پرته وروستۍ پېړۍ د امت لپاره تر ټولو دردونکې وه؛

## اوس هغه وخت دی چې دغو دردونو ته د پای ټکې کېږدو!

حزب التحریر د رجب د لومړۍ ورځې د فضیلتونو د درېیو میاشتو د پیل او د خلافت له پای ته رسېدلو راهیسې د سل کاله تېرېدلو په مناسبت یو نړیوال کمپاین پیل کړی؛ چې په هغه کې یې ټولو مسلمانانو، نارینه وو، ښځو، بوډاگانو، ځوانانو، علماوو، زده کوونکو او د قدرت څښتنانو ته لاربښوونه کړې ده، څو د مظلومانو ملاتړ وکړي او هغوی وژغوري. دوی ته په خطاب کې ویل شوي دي: اې مسلمانانو! له خلافت پرته سل کال بس دي! موږ پر تاسو غږ کوو چې سل کاله وروسته یو ځل بیا خلافت تاسیس کړئ.»

هو، د خلافت له ړنگېدلو راهیسې سل کاله تېرېږي. سل کاله ... د اسلامي امت لپاره تر ټولو ډېر له کړاو څخه ډک کلونه وو. اسلامي امت په خپل تاریخ کې داسې ظلمونه نه دي لیدلي، چې سل کاله یې دوام کړی وي! د اسلام پر مقدساتو هېڅکله داسې بریدونه نه دي شوي لکه په دې کلونو کې چې شوي دي! په تاریخ کې د مسلمانانو وینې دومره په اسانۍ نه دي بهېدلې لکه په دې پېړۍ کې چې وبهېدلې! مسلمانانو هېڅکله دومره اوښکې نه وې تویې کړې او په دې کچه یې له ډال پرته ژوند نه و کړی.

اې مسلمانانو، ایا د یو غوره ملت لپاره مناسب ده چې وگړي یې داسې کچې ته راورسېږي؟ مسلمانان د اسلام په ټولو زمانو کې ان د خلافت تر ړنگېدلو پورې د الله سبحانه و تعالی احکامو ته په غاړه اېښودلو او پیروۍ کې پاتې نه وو راغلي. مسلمانانو څو ځله ماتې وخوړه، خو هر ځل هغوی د الله سبحانه وتعالی احکامو ته په غاړه  اېښودلو سره بیا راپورته شوي دي. دوی درد ولید، خو له اسلام څخه پرته په بل شي کې د درملنې په لټه کې نه وو. مسلمانانو د الله سبحانه و تعالی احکامو ته د هغوی د پاملرنې تر کچې بریالیتوب تر لاسه کړ او د الله سبحانه و تعالی له قانون سره سم د دوی د هڅو له امله بریالي شول.

ایا تاسو د خپلو پلرونو په څېر یاست؟ ایا تاسو غواړئ د خپل درد، خپل شاتگ، خپل وېش، ستاسو پر وړاندې د خلکو ظلمونه او پر تاسو باندې د غرب له استعمار څخه وژغورل شئ؟ ایا تاسو غواړئ چې د اسلام د ښمنانو ته درس ورکړئ چې دوی ایا زموږ د سپېڅلو ځایونو پر وړاندې د بریدونو مستحق دي؟ دا مسله تر لمر روښانه ده؛ هغه دا چې تاسو هغه ملت پالنه رد کړئ چې الله سبحانه و تعالی ناروا بللې او ستاسو د وېش لامل شوې ده. دا چې تاسو ډموکراسۍ ته مخه کړې، تاسو یې له الله سبحانه و تعالی څخه لیرې کړي یاست او همدارنگه د الله

سبحانه وتعالی له احکامو پرته ادعا کوي چې ګواکې موږ پوهېږو او الله سبحانه و تعالی نه پوهېږئ! سیکولریزم ته مو غېږ پرانیستې چې وایي: «الله سبحانه و تعالی د دنیا په چارو کې لاسووهنه نه کوي!»، الله سبحانه و تعالی ستر ذات دی. سره یو موټی شئ، تر څو تر یو دولت لاندې ژوند وکړئ او د نبوت پر منهج یو ځل بیا راشده خلافت تاسیس کړئ!

حزب التحریر تاسو ته د نجات یوازینۍ لار درښیي او د هغو حقایقو یادونه کوي چې تاسو هېر کړي دي. ستاسو ښېرازي او سوکالي غواړي او تاسو د الله سبحانه و تعالی رضایت ته رابولي. غواړي چې په نړۍ کې هېڅ ماشوم ونه وژل شي، کوم مسلمان له بې عدالتۍ سره مخ نه شي، تاسو په بېوزلۍ او محرومیت کې ژوند ونه کړئ او له ځمکو څخه مو تاسو خپله ګټه واخلئ. حزب التحریر تاسو ته د حق لاره درښیي، هڅه کوي چې تاسو ته پر ښېګڼو امر وکړي او له بدو مو منع کړي، دا هر څه په کلک عزم، هوډ او اخلاص سره تر سره کوي. سربېره پر دې چې د دغه سپېڅلي غږ پر وړاندې دسیسې شته او غواړي دا سپڅلی غږ چوپ کړي. الله سبحانه و تعالی شاهد دی! الله سبحانه و تعالی شاهد دی! الله سبحانه و تعالی شاهد دی!

**أقيموا_الخلافة#**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**خلافت_بیا_تاسیس_کړئ#**

**د حزب التحریر- ولایه ترکیه مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۰۵/ ۱۴۴۲**